# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



ليکوال او شنانډ: نظرمحمد مطمئن


۱۱ می ۲۰۱۵

## د اسلام آباد او کابل اړيکې،
## د طالبانو دريځ او د سولې کانفرانسونه

د پاکستان پخوانی ولسمشر اصف علي زرداري د پګواش کانفرانس وروسته ډير ژر (۷ می ۲۰۱۵) کابل ته راغی، دا ډول ددغه هيواد د استخباراتو مشر په يو پټ سفر سره هم کابل ته راورسيد.

ځينی رسنی چې لوړ پوړو پخوانيو او اوسنيو دولتي چاراواکو ته لاسرسی لري، داصف علي زرداري او د پاکستان د استخباراتو د مشر او افغان چاراواکو تر ليدني وروسته په نيټه ۸ می ۲۰۱۵ خبر ورکړ چې طالبان به په نږدې راتلونکي کې په کوم بل هيواد کې د افغان دولت له استازو سره مخامخ ناسته ولري.

داسي معلوميږي چې د ولسمشر غني سفر هند ته ددغه په نظر کې ممکن بدلون راوستی وي، او داډول هغه وعدې چې پاکستان ولسمشر غني ته ورکړي وي چې طالبان به د هرې ممکنه لارې څخه هڅوي او اړ کوي چې د افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته يې کينوي، کرار کرار ناسمي خيږي.

د پګواش کانفرانس کې چې د طالبانو پلاوي د طالبانو په استازيتوب ګډون وکړ، د افغان حکومت له خوا استازي د پګواش اداري او ملګرو ملتونو له خوا د طالبانو په غوښتنه ونه منل شول، دا ډول ځيني ګاونډي هيوادونه هم ونه توانيدل چې د کانفرانس په مشرتابه اود ملګرو ملتونو په استازو ومني چې ددوی استازي په کانفرانس کې ګډون وکړي ، دا نو دافغان حکومت او پاکستاني چاراواکو تر منځ ممکن بې باوري نوره هم زياته کړي وي، همدا لامل و چې يو په بل پسې د پاکستان لوړ پوړي چاراواکي افغانستان ته راغلل.

### ولې داځل اصف علي زرداري؟

ولې داځل پخوانی ولسمشر اصف علي زرداري کابل ته راغی؟ معلوميږي چې د ګډ حکومت د مشر او پاکستان د اوسنيو چاراواکو ترمنځ اعتبار مخ په خرابيدو دی، اصف علي زرداري به کوشش کړی وي چې دغه بې باورۍ تر يوحده کمه کړي.

داډول اصف علي زرداري چې د پخوانی ولسمشر کرزي سره ښې اړيکې درلودلې، او کرزي هم په وروستي وخت کې د غني تګلاره د پاکستان اړوند ناسمه ګڼلې او د هند سره يې د اوسني ګډ حکومت تګلاره باندي توندی نيوکې کړې، اصف علي زرداري ته به دنده سپارل شوې وي چې د پخواني ولسمشر کرزي سره په دې اړه تفاهم وکړي او که وتوانيږي د هغه نظر د پاکستان په اړه لږ ترلږه مثبت لور ته واړوي.

اصف علي زردادی سفر داخل کابل ته له دي امله هم مهم و، نږدي تیر ته په کتلو سره د پیپلز ګوند بهرنی تګلاره د مسلم لیګ ګوند په پرتله د نورو هیوادونو په کورنیو چارو کي کمه مداخله ولاړه ده.

## د افغانستان اړوند کنفراسونو کي د طالبانو رول او ګډون

طالبانو دپګواش، جاپان او فرانسي کنفرانسونو څخه دهراړخیزه لاسته راوړنو، او اوسنی عام وضعیت او موجوده کمزوري ګډ حکومت ته په کتلو سره له یادو کانفرانسونو څخه ښکاره او جوته ګټه پورته کړه، ښکاري چي طالبان به په راتلونکي کي هم په ځینو مهمو کانفرانسونو کي ګډون وکړي، چي یابه دملګرو ملتونو له خوا وي، اویا به دملګرو ملتونو په غوښتنه وي مګرځیني هیوادونه به یي کوربه توب کوي ، کیدای شي چین، ترکیه، عربی هیوادونه یاکوم اروپایي هیواد کي راتلونکي کانفرانسونه وي

## د پاکستان، طالب او چین مثلث

دپاکستان څخه کابل ته راغلو هیئتونو به ممکن د ګډ حکومت مشرته د چین او طالبانو د احتمالي ناستي اړوند معلومات ورکړي وي، ممکن چي د ناستي نیټه او ځای به یي هم ورته ښودلی وي،
په داسي حال کي چي دا ډول غونډي هسي هم له مخکی نه دطالبانو او چنایی اړخونو لخوا په ګډه تاکلي شوي وي د چین هیواد سره د طالبانو اړیکي ډیر د پخوا پیل شوي مګر دتیرکال راهیسي څو ناستي دپاکستان په وساطت ترسره شوي، او په بیلابیلو ځایونو کي یي ورسره لیدني شوي، چي لومړي ځل یي لیدنه په چین هیواد کي وه، څو میاشتي مخکي یي له چینایي چارواکو سره ناسته په پاکستان کي وشوه، چي بیا وروسته د طالبانو او چینایي چارواکو ناسته ډیره رسنیزه هم شوه.
د چین او طالبانو ترمنځ ممکن په راتلونکي کي نوري غونډي هم د پاکستان هیواد په وساطت ترسره شي، مګر دابه په دی معنی نه وی چي د سولي خبري دي او یا هم له چینایي چاروواکو سره د ګډ حکومت په وړاندیزونو طالبان خبري کوي.
مګر جوته ده چي له دغسي ناستو څخه به د افغانستان د سیاستوالو د ناخبري له امله پاکستان ګټه پورته کوي او کریډیټ به یي تش په تشه د ګډ حکومت له خوا همدوی ته ورکول کیږي.
دلته یوه باریکي هم شته، پخوا رسنیو راپور ورکاو، داډول ولسمشر غني هم ویل چي چین هیواد به پاکستان دي ته چمتو کړي چي پر طالبانو فشار راوړي چي د سولي خبرو ته چمتو شي، ولي د اشرف غني له واک ته رسیدو مخکي همدي پاکستان کوشش کړی چي د طالبانو او چین ترمنځ د اړیکو نږدي والي او ښه والي کي وسیط و اوسي، ددي پرځای چي چین پاکستان وهڅوي، پاکستان د چین هیواد هڅولي چي له طالبانو سره یي د نظر تبادل وشي، او هغه سوالونه او اندیښني چي د طالبانو په اړه یي چین لري مخامخ له طالبانو سره مطرح کړي.

## د اروپایي هیوادونو او طالبانو اړیکي

دطالبانو ،ملګرو ملتونو ، او اروپایي هیوادونو اړیکي په دي وروستیو وختونو کي مخ په ښه کیدو لور ته روان دي، او د جهتونو له خوا دغه تازه پرمختګونه او اړیکي مثبت ګڼل کیږي، دغه ټکي ته په کتو سره شوني ده که په راتلونکي کي د افغانستان اړوند غونده په کوم اروپایي هیواد کي وي، ممکن طالبان به مخامخ یا به دملګرو ملتونو په وساطت دغسي غونډو ته بلل کیږي، او طالبان به هم پکي ګډون کوي.

په کابل کې د ځینو اروپایي هیوادونو د سفارتونو د ډیپلوماټانو له خولې داسي ګنګوسي اوریدل شوي دي چې په راروانو ځومیاشتو کې به په کوم اروپایي هیواد کې یوه غونډه دایره شي ، چې دملګرو ملتونو په بلنه به د طالبانو یو لوړ پوړی هیئت په دغه ناسته کې ګډون وکړي، په دي مهم کانفرانس کې به د اروپایي هیوادونو تر څنګ د نړۍ نږدې ۷۰ څخه تر ۸۰ د بهرنیو چارو وزیران او یا دهغوی استازي برخه لري، او ممکن چې دغه غونډه د راون کال د جون یاجولای میاشت کې وشي.

### د کانفرانسونو د مخنیوي اندیښني

طالبانو ته نږدې سرچیني وایي چې دوی حاضر و او حاضر دي چې په نړیوالو کانفرانسونو کې ګډون و کړي، خپل نظر او غوښتني د افغان ولس او نړیوالو سره شریکې کړي، هر چا چې اړیکه نیولي د دوی له خوا یې مثب ځواب ترلاسه کړی، پګواش هم همدغسي یوه ټولنه وه چې مخامخ یې د ملګرو ملتونو په واسطه اړیکه ونیوله او طالبانو په کانفرانس کې ګډون ومنی.

ډیری شنونکي ، د ازاد نظر لرونکي افغانان او طالبانو ته نږدې سیاسي څیري هم په دي نظر دي چې ممکن یوځل بیا ددغسي خپلواکو کانفرانسونو مخه د بیلابیلو کورنیو او بهرنیو کړیو له خوا ډب شي، او دغه لړۍ چې بیا ځل یې پیل د پګواش په کانفرانس سره وشو ټکنی شي.

### د طالبانو ګډون او موخه

که په داسي غونډو کې یا کانفرانسونو کې طالبان ګډون وکړي نو دوی به وتوانیږي چې د غونډې په څنډو کې خپل نظر او خپله تګلاره د نړیوالو سره شریکه کړی، او دا ډول به هڅه وکړي چې د نړیوالو پوښتنو، اندیښنو، تهمتونو، او سوء تفاهماتو ته ځواب ووایي، هڅه به وکړي چې د نړیوالي ټولنې سره خپلې اړیکې نږدې او ټینګې کړی، او نړیوالو ته به ښئیي چې له طالبانو سره په اړیکو کې یې زیان نه دی، بلکه طالبان غواړي چې په راتلونکي کې هم له نړیوالې ټولنې سره ښې اړیکې ولري.*

د طالبانو ګډون د یوشمیر بهرنیو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په ګډه غونډه کې پرته له شکه د ګاونډیو هیوادونو په وساطت به نه ترسره کیږي، بلکه ملګري ملتونه به د طالبانو ګډون ته لاره چمتو کوي. اوس به بیا ځل ځینې ګاونډي هیوادونه هڅه کوي چې کله هم دوی د طالبانو له ګډون څخه خبر شوي وي او یا خبر شي، نو بیا به افغان حکومت ته همداسي ښئي چې په یاده راتلونکي غونډه کې د طالبانو ګډون او له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته په کرار کرار د طالبانو حاضرولو ته دوی زمینه برابره کړي او هڅه کوي چې له ګډ حکومت سره طالب مشران په یوه میز خبرو ته کینوي.

### د اوسني ولسمشر تېروتنه

ولسمشر غني د د ولسمشریزو ټاکنو د کمپاین پر مهال د سولې شعار دومره زیات بدرګه کړ چې نور نو د هر افغان هیله او امید په حقیقت بدل شوی و، چې که اشرف غني واک ته ورسیږي، سوله حتمي ده، خو د امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک، د باګرام زندان بیا ځل پرانستل، د امریکاهغه پوځونه چې پلان و په ۲۰۱۵ کې له هیواد څخه ووځي دولسمشر په غوښتنه پاتي کیدل، داعش له پاره له بیلابیلو لارو ناسم پروپاګند، په هیواد کې د ناامنیو زیاتولای، په جګړې ټینګار او د وزرخبري، هغه څه دي چې ولس یې د ولسمشر غني پر وعدو بې باوره کړی دی.

ولسمشر غني په مجلسونو کي خپلو پلويانو ته ويلي چي د کرزي د وخت تېروتنه به نه کوي، له ګاونډيو هيوادونو سره به يي تعامل د محاسبي له مخي وي، ولي معلوميږي چي ولسمشر غني هم په هغه لومه کي نښتی دی کوم چي کرزي خپل ځان په لوی لاس، په اګاهانه ډول پکي بند کړی و.

په هيواد کي له سياسي شنونکو سره داويره هم پيداشوې چي ممکن اشرف غني به په لوی لاس د پلان يوه برخه عملي کوي، چي طالبان سولي ته حاضر نه شي، جګړه دوام پيداکړي ، په هيواد کي ناامني زياته شی، او په ځانګړې ډول په شمالي ولايتونو کي ، تر څو د امريکا دوامداره حضور ته ښه زمينه برابره او له شمال څخه امريکا چين او روسيه تهديد کړي.

زموږ غوښتنه له طالبانو او ګډ حکومت له مشرانو څخه داده چي د رښتوني سولي له پاره ژمن واوسي، او بين الافغاني تفاهم ته ترجيح ورکړي، بهرنيانو ته په هيواد کي د پاتي کيدو بهانی او پلمي په لاس ورنه کړی، ددی پرځای چي پر نورو هيوادونو تکيه وکړي، پر خپل افغان ولس او افغان دريمګړو باور وکړی.

هو دامريکا سره د طالبانو د سولي د مذاکراتو او بيا وروسته له افغان ډلو سره د طالبانو د سولي د مذاکراتو د سم پرمختګ د تضمين له پاره اړينه ده چي ګاونډي هيوادونه او ځيني نور قوي هيوادونه په اعتماد کي واخستل شي.

د يو هوسا، سولئيز ، امن او خپلواک افغانستان په هيله

***یادداشت:***

*در این که طالبان در گذشته هم کوشش نموده تا با آن بخش از جهان که مؤید جنایات آنها بوده اند روابط نیک و حسنه داشته باشد و اینک هم همان سیاست را تعقیب می نمایند، هیچ جای شکی وجود ندارد، مگر اساس مطلب این نبوده که گویا طالبان خواستار روابط نیک با جهان نیست و بدان خاطر مردم علیه آنها سلاح به دست گرفته بودند؛ بلکه علت خیزش و مبارزات جانبازانهٔ مردم علیه طالبان، در گام نخست مزدوری آنها به پاکستان و به مثابهٔ نوکر اجنبی در افغانستان عمل کردن آنها بوده است، در ثانی سیاست های ارتجاعی و ضد انسانی طالبان که توأم با مذهب ستیزی، قوم ستیزی و زن ستیزی بوده است؛ به حدی علت نفرت و انزجار مردم افغانستان از طالب و «طالبانیزم» گردیده است که حتا بخشی از مردم آزادهٔ افغانستان که هیچ گاهی در طول تاریخ، رقیت و بردگی اجنبی را نپذیرفته، به خاطر نجات شان از تجاوزات ضد انسانی طالب و «طالبانیزم» به بیگانگان پناه جسته اند.*

*به نظر ما این که کشور های اشغالگر و یا حاکمیت دست نشانده به نمایندگی از آنها، می خواهند با طالب کنار بیایند، به هیچ صورت نباید بدان معنا تعبیر گردد که گویا مردم افغانستان، جنایات طالب را فراموش نموده، باز هم می خواهند با بی تفاوتی و نقش منفعلانه در حیات سیاسی - اجتماعی خویش بازی نمودن، راه را برای حاکمیت مجدد از گوربرخاستگان تاریخ مساعد بسازند.*

*ما را عقید بر آن است، می باید در تقابل با سیاست های ادارهٔ مستعمراتی غنی-عبدالله که به دستور باداران شان می خواهند با زیر پای نمودن خون هزاران هموطن ما در اقصا نقاط کشور از کابل گرفته تا هرات، از مزار گرفته تا یکاولنگ و .. که به وسیلهٔ جنایتکاران طالبی و باداران بین المللی و منطقه ئی آنها زیر نام القاعده و یا لشکر طیبه و امثالهم به خون کشیده شده اند، فرش قرمزین جلو پای ارتجاع سیاه مذهبی در وجود طالب پهن نمایند، فرد فرد ما وظیفه داریم تا خود به میدان آمده، همان طوری که در قضیهٔ قتل فجیعانهٔ زنده یاد«فرخنده» ارتجاع مذهبی را وادار به عقب نشینی نمودیم، این بار هم در مسألهٔ طالب و سر تسلیم فرود آوردن برای طالب و «طالبانیزم»، آنها را وادار سازیم تا جام زهر را بنوشند.*

این کشور از آن تمام مردم افغانستان است، هیچ قوم، ملیت، نژاد، زبان و مذهبی حق ندارد با حرکت از موضع «نفی دیگران و تأئید خود» بر سایر مردم گلوله و آتش باراند. می باید در مقابل تمام جنایتکارانی که می خواهند با نفی دیگران و به خون کشیدن آنها، به امیال خود برسند، ایستاد؛ همان طوری ایستاد که پدران ما علیه متجاوزان اجنبی از لشکر خونریز عرب گرفته تا همین اکنون یعنی امریکا و شرکایش ایستاده اند.

ادارۀ پورتال AA-AA